# وطني /خوشحال خان ختک قومي شاعري

- درست پښتون له قندهاره تر اټکه
- سره یو د ننګ پکار پټ او اشکار

- افریدو مومند شینوارو ګوره څه که
- د مغلو لښکر پروت پر ننګرهار
- 
- په یوه ژبه ویل سره پښتو کړو
- ولې نشو له یو بل خبر دار

مغلو ته به هسې کار ښکاره کړم

چې رضي راڅخه روح د فريد خان شي

په اعوضو به يه فتح کړم که خداي که

په دي کار کې که څوک ما وته شيطان شي

هره چاره د پښتون تر مغل ښه ده.

- اتفاق ورسره نيشته ډير ارمان

- که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
- زوړ خوشحال به دوباره شي پدا ځوان

# رزمیه شاعري

- لا تر اوسه یه مازغه په قرار ندې
- چا چې ماسره وهلې سر په ښنګ دي
- لا په خوب کې په لرزه پریوزي له کټه
- چې دچا تر غوږ زما د تورې شرنګ دي

- چې مغلو ته مې وتړله توره
- درست پښتون مې و عالمو ته ښکاره کړ
- اتفاق په پښتانه کې پیدا نشو
- ګني ما به ده مغل ګریوان پاره کړ

# اخلاقي شاعري

- بندوبست د کائنات شي په خبرو
- يو تر سلو صدقه شه سل تر زرو
- د منت دارو که مرم پکار مې ندي
- که علاج لره مې راشي مسيحا هم

- چې د خلکو نیک خواهې لري په زړه کې
- مبارک شه بادشاهي لري په زړه کې
- په چارم اسمان به ناست لکه عیسي وم
- که اسمان ته الوتي شوي په خبرو

# عشقیه شاعري

- زه خوشحال کمزورې نه یم چې به ډارکړم
- په ښکاره نعرې وهم چې خوله یه راکړه
- د خوشحال د زړه د یار محبت نه ځې
- لکه مینه د خپل بت له بت پرسته

- چې د مخ پلو یه وا شو یو مشال و چې نوا شو
- هغه دم پري پروانه وم پروانه یم لا تر اوسه

- چې یه ځان سره اشنا کړم له هر چا یه شا په شا کړم
- له عالمه بیګا نه وم بیګانه یم لا تر اوسه

# KHALID KHAN KAKAR